واحد فقیری هاری ۲۰۰۸/۱۲/۲۹م

# خلاصون او نجات

په امریکا کي، د ښاغلي اوبامه د بري او راتگ سره سم د افغانستان د سیاسي او نظامي بحران د حلولو لپاره یو لړ نوي فکرونه را مینځته سوي دي. د روانو بحثونو اصلي ټکی دا دی چي څرنگه افغانستان وژغورل سي. د نجات او خلاصون لاره کمه ده. څرنگه ثبات او پرمختگ تامین سي. کمه د حل لاره سمه، سیده، او مطمینه ده. په بل عبارت، په واشنگټن کي، د تېرو اوو کلونو د پرله پسي زیانونو او غفلتونو جاج اخیستل کېږي. په افغانستان کي پر تېرو پېښنو او حوادثو باندي تجدید نظر کېږي. په عین حال کي، د یوه ژوندي تاریخ د عبرت پر درسونو باندي غور هم کېږي. ځیني مبصرین نظر لري چي په افغانستان کي د ثبات، سولي، او اقتصادي پرمختگ لپاره لمړي باید طالبان، القاعده، او نور مسلح مخالفان ختم سي، او بیا وروسته دننه په حکومت کي د جنگسالارانو او بدنامو مامورینو چاره وسي. مانا دا چي لمړی باید خارجي دښمن مات او ختم سي. د طالبانو، مسلح او بېشماره یاغیانو، او د القاعدې د قاتلانو نوغی و ایستل سي، تر څو د داخلي تصفیې لپاره فرصت برابرسي. دوی گومان کوي چي هغه وخت به په حکومت او ټولنه کي د بدو عناصر لیري کول اسانه سي. دوی نه غواړي چي د نوي حکومت په لمړی ورځ د جنگسالارانو پرخلاف پراخ او موثر عملیات پیل سي. ځیني بې وسلې سي، ځیني محکمو ته راکش سي، او ځیني د خپلو جرمونو او بدو اعمالو په سزا ورسېږي. له بده مرغه دوی هغه اشتباه تکراروي چي په لمړی سرکي د بوش ادارې وکړه. په کال ۲۰۰۱ کي، د بوش ادارې په افغانستان کي سیاسي مړي له قبرونو څخه را اوستل، او پوره اته کاله یې همدا د لحدونو مړي ونازول او حمایت یې کړل. نیتجه یې اوس هر چا ته معلومه ده، او د اضافه بیان حاجت یې نسته. د دغي ناکامي مفکورې د تقویې لپاره به د اوبامه اداره همدا غټ، شډل، او بې واکه جنگسالاران څلور کاله نور د امریکا په پیسو او عسکرو ساتي. دا معامله ښه ډېره گډه وډه وینم. دا مفکوره پوره سیاسي حماقت گڼم. دا په لاره کي په کیندلي کوهي کي په قصده ځان اچول بولم.

حقیقت دا دی چي دا لاره او پالیسي موجوده سیاسي بحران لا پېچلی او گرانوي. په عین حال کي، یوه سپېره سیاسي بې همتي هم ښکاري. ځکه که چیري اصلي ستونزه مشخصه وي او یا تر ډېره حده څرگنده وي، نو بیا یې چاره نه کول غفلت، بې مسولیتي، او څرگنده اخلاقي کمزوري ده. له اوو کالو متواترو اشتباهاتو او تېروتونو څخه را وروسته فعلا اکثره خلک پدې خبره پوهېږي چي د افغانستان د حاکم سیاسي جوړښت تر ټولو لویه ستونزه دننه په حکومت کي د بدنامو خلکو شتون او قدرت دی. د کرزي په حکومت کي له لمړی ورځي څخه د جنگسالارانو حضور او واک د کابل د حکومت اعتبار او مشروعیت ته کاري صدمه ورسوله. دا اشتباه، پرته له مبالغې څخه، د افغانستان په متعلق د جمهوررئیس بوش تر ټولو ستره سیاسي خطا ده. ځکه د مرکزي او قوي حکومت په نشته والي کي د افغانستان سیاسي بحران دوامداره او ابدي دی. نو بنا، د دې ډلي تیوري له هره لحاظه ناقصه او له سیاسي درایت اوبصیرت څخه لیري ده. د امریکا شپاړلسم جمهوررئیس او په متحده ایالاتو او نړی کي د بني ادمانو د مرییتوب پر خلاف د آزادی مخکښ مشر، ابراهیم لینکن، د امریکا د تباه کونکي داخلي جنگ په سر کي ویلي وو: "یو کور چي په داخل کي وېشلی او متفرق وي، هغه دوام نلري." ځکه هغه قوه چي په دننه کي کمزورې او فاسده وي، په بهر کي هم بې اعتباره وي. په مقابل کي، په کور کي قوت او وحدت د بهر شان او شوکت دی.

د افغانستان د خلاصون او نجات لپاره، د نوي حکومت د پیلېدو سره سمدستي باید د کابل په حکومت کي سراسري سیاسي اصلاحات شروع سي. دا یو سیاسي او حیاتي ضرورت دی. د امنیت او ثبات د ټینگولو او د یوې مدني ټولني د جوړولو لپاره هرو مرو باید د حکومت په درو واړو څانگو کي پراخ اصلاحات او تصفیه کاری وسي، په تېره بیا، په اجراییه او قضاییه قوې کي. مقننه قوه باید سمدستي منحله او لغوه سي، او پر ځاي یې یوې مشورتي شورا ته مستقل او مترقي منورین او معتبر سیاسي شخصیتونه ونومول سي. ځکه په اوسنی شورا کي_ البته پرته له یو څو محدودو شریفو کسانو څخه - د افغانستان د دیرش کلن ناورین مشهور جنگي جنایتکاران او اول لمبر قانون ماتونکي راغونډ سوي دي. لدې ډول شورا څخه نه شورا ډېره ډېره بهتره ده. دغه راز، نوي مامورین او قاضیان جلب او وروزل سي. د مامورینو معاش د ورځني ژوندانه د اقتصادي ضرورتونو سره سم تعیین او پر ټاکلي وخت ورکړه سي. حکومتي مامورینو ته باید یو مرفه او د عزت ژوند برابر سي. مانا دا چي پرې نه ښودل سي چي دولتي مامورین او قاضیان رشوت اخیستلو ته مجبوره سي . په حکومت کي د اداري فساد او بدو مخه په جدي توگه ونیول سي . د دولت او حکومت صلاحیت او آتوریتي بېرته را اعاده کړ سي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

یو ځل بیا، لمړي باید د کور چاره وسي، بیا د بهر. یو معتبر او مشروع سیاسي مرکز جوړ سي. دحکومت د مشروعیت آډاني باید د افغانانو په مټ او زور ټینګي ولاړي وي. د افغان د سیاسي عمارت د کاڼو زور پر یوه پاخه او مشروع بنیاد باندي وي. د دولت استازي او مامورین د کرکټر او اخلاقي وزن خاوند وي. په بل عبارت، حکومتي ماموریت باید دونه باعزته دنده او وظیفه وي چي د هېواد اکثره قابل او هوښیار ځوانان، نوي اجتماعي قشرونه، او مدني ډلي راجلبي او منظمي کاندي. مرکزي حکومت مجبوره دی چي د افغانستان د انکشاف لپاره- البته د محدودو څو کلونو لپاره - محوري او بنیادي ونډه واخي. له یوې خوا کارونه خلق کړي، او له بلي خوا، خصوصي سکټور ته په اقتصاد کي د فعال او جوړونکي را داخلېدو اسانتیاوي برابري کاندي. د افغانستان بیاودانېدل یوازي د دولت او ټولني تر مینځ په غښتلي وحدت او همکارۍ کي ترلاسه کېدای سي. دولتي او خصوصي سکټورونه باید په ګډه کار سره وکي.

د همدغو دلایلو په اساس، د افغانستان او منطقې د ژغورلو او نجات لپاره باید د کابل حکومت تصفیه سي. د کرزي په شمول د هغه په رټل سوي حکومت کي زیاتره فاسد وزیران، بېکاره عالي رتبه مامورین، تش په نامه جنرالان، بدنامه والیان، د محلي او قومي ملیشاوو بدماش قومندانان، جاني او غله جنګسالاران، اکثره ناپاکه قاضیان، او وطن دښمنه سفیران باید پسي واخیستل سي. دغه راز، په خصوصي سکټور کي هم د کمپرادور تاجرانو او د اینجیو ګانو د ټېوسانو سره هرو مرو باید حساب او کتاب وسي. ځکه د کال ۲۰۰۱ راهیسي افغانستان ته قریب پنځلس بیلونه ډالره استول سوي دي. د دغه رقم لویه برخه یا ببرته بسپنه ورکونکو هېوادونه ته راستنه سوې ده، او یا د کابل حکومت داړمارانو حیف او میل کړي دي.

د افغانستان خلاصون او نجات دا ایجابوي چي فاسقان او ظالم حاکمان محکمو ته راکش کړی سي. ځکه سوله یوازي هله ټینګېدای سي چي عدالت او انصاف تامین سي. پرته له عدالت څخه د سولي او ثبات تامین امکان نلري، او که چیري تامین هم سي بیا به نو ضرور د برچې په زور وي، خو حتما به موقتي وي. په نننی عصر کي قاعده دا ده چي کله یو سیاسي ټیم ناکامه سي، الوداع کوي. په امریکا کي، د بوش دوره پوره سوه، د اوبامه د راتګ سره سم پرته له دفاع وزیر څخه نور ټول وزیران نوي نومول سوي دي، او د امریکا په سیاسي پوستونو کي به هم اکثره نوي مامورین مقرره سي. دا یوه معقوله او پخه قاعده ده. د کزري ټیم په ازموینه کي ناکام سو، او باید ګرده وزارتونه او عالي اداري د همدې زاړه ټیم له پاتي شونو څخه پاکي سي. هغوی څه کم اته کاله وخت لره، خو هیڅ بریښ یې و نه کی.

بلخوا، امریکا غواړي د عراق د سني اقوامو تجربه په افغانستان کي تکرار کړي. په عراق کي، د القاعدې د قاتلانو پرله پسې مرګانیو حملو عراقي سنیان د مسلم مرګ او تباهۍ سره مخامخ کړي وه. هغوی مجبوره وه چي د القاعدې پر خلاف وسله را واخلي، او دغه مذهبي جانیان له خپلو سیمو څخه تصفیه کاندي. د عراق سنیان مجبوره سول چي د خپلو سیمو امنیت پخپل کنټرول کي راولي، او د القاعدې او نورو خارجي مذهبي جګړه مارانو د حیرانونکي قساوت او بربریت مخه ونیسي. همدا راز، عراق څو کاله پرله پسې یو مرکزي او دیکتاتوري نظام لاره. په افغانستان کي په کلونو کلونو د یوه غښتلي مرکزي حکومت نشته والی د هغه هېواد ټول پرمختګ او ثبات ته کاري صدمې رسولې دي. بلخوا، که څه هم د اکثرو افغانانو د طالبانو توره او لغوړنه دوره په یاد ده، خو دم ګړی عامه خلکو طالبانو ته د کزري د حکومت او د هغه د بهرنیو حامیانو له وچ ظلم او غفلت څخه پناه ور وړې ده. د کابل حکومت امنیت نسي تامینولای؛ بمبارۍ نسي ختمولای؛ بېکاري نسي کمولای؛ او د خلکو لمړنیو غوښتنو ته جواب نسي ویلاي. د افغانستان حکومت په دننه کي واحد مرکز نلري. د کرزي حکومت دکار او خدمت هیڅ ډول قابلیت او ظرفیت نلري. ټوټال ټراو دی. د خارجي ټولني پر اوږو باندي یو دروند او دایمي پېټی دی. تل مفلس او خوار دی. که چیري د افغانستان پر مختګ په همدې سرعت روان وي، خدای سته که یا ځای ته ورسېږي او که یا څه ترې بود سي. همدا وجه ده چي باید د کابل په اداره کي بنسټي اصلاحات راوستل سي. بله د خلاصون او نجات هیڅ لاره نسته. والسلام.

پایان


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de